مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۳/۰۹/۰۱

# د جمهوريت د سقوط عوامل
## د جنگسالارانو ونده

(پنځه ویشتمه برخه)



(د علي پور ملاتړي، له ښي لوري حاجي محمد محقق، سرور دانش او کریم خلیلي)

### جنایتکاران او د چاړواکو ملاتړ (۳)

یو بل پخوانی جنایتکار او داړه مار چې په کابل کې د اوبایمو کلونو په جگړو کې یې د افغانانو په سرونو کې مېخونه ټک وهلي وو، هزاره توکمه عبدالغني، مشهور په علي پور شمشېر ؤ چې د هزارهگانو لپاره اتل او د نورو افغان قومونو پروړاندې یو بدماش او جنایتکار تن دی. نوموړی په حکومت کې د هزاره توکمو لوړپوړو چاړواکو لخوا حمایه کېدهٔ، علي پور په ۱۳۷۱ل. ل. کال کې د هزارهگانو د وحدت ډلې غړی ؤ او د کابل په خپل منځي جگړو کې یې ډېرې ورانی او جنایتونه ترسره کړي دي، په کابل کې د اوبایمو کلونو، کورنیو جگړو سربېره، دغه جنایتکار له پخوا څخه په هزاره مېشتو سیمو کې د پښتنو په وژنو او ځورونو لگیا ؤ، علي پور چې په ۲۰۰۱ز، کال شاوخوا کې د ډرېورۍ دنده درلوده، هغه ډرېوري پرېښوده، د مذهب او توکم له اغېزو یې گټه پورته کړه او د شیعهگانو له مجرمانو او جنایتکارانو څخه یې یوه وسله واله ډله (د عدالت لپاره د مقاومت جبهه) په نوم یوه یاغي باغي ډله جوړه کړه او د طالبانو په نوم یې د پښتنو په ځورولو پیل وکړ، هغه په یو تلویزیون کې وویل چې زه د طالبانو دښمن یم، هر ځای کې چې طالب دی زما دښمن دی. د هغه له نظره، هر پښتون طالب دی او هر کوچي پاکستانی پښتون دی؟!

د ملي امنیت لوی ریاست وویل چې د علي پور ډله ټپله په سپکو او درنو وسلو سمبال ده چې د میدان وردگو د بهسودو ولسوالی له ځمکوالو، تجارانو او خصوصي شرکتونو څخه په ناقانونه توگه په بېلابېلو پلمو باج اخلي. بله دا چې علي پور د سیمې له جنایتکارانو خپله ډله جوړه کړې ده چې د سیمې اوسېدونکي په پرله پسې توگه ځوروي.

ملي امنیت وویل چې کله افغان دولت په سیمه کې د علي پور د ناقانونه کړنو پروړاندې غبرگون ښکاره کړ نو هغه د پولیسو پرځواکونو برید وکړ، پنځه تنه پولیس یې د هغوی له مهماتو او نقلیه وسایلو سره وتښتول. bbc.com/persian


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۲۰۰۷ز، کال کې د بهسودو په ولسوالۍ کې د هزاره‌ګانو او کوچیانو تر منځ د څرځایونو پر سر جګړه ونښته، هزاره‌ګانو ادعا وکړه چې کوچیانو له خپلو کورونو شړلي او د دوی څمکې یې لاندې کړي دي خو کوچیانو د دوی دا ادعا رد کړه ویې ویل چې کلونه، کلونه په ځانګړو فصلونو کې د څرځایونو په توګه له دغو سیمو ګټه پورته کړي ده.
bbc.com/persian

د هزاره ګانو پخوانی جنګسالار او د اجرائیه ریاست دویم مرستیال حاجي محمد محقق چې د علي پور کلک ملاتړی او په کورنیو جګړو کې اصلي لوبغاړی پاتې شوی چې د ښځو سینې یې غوڅې کړي او د سُنیانو افغانانو په سرونو کې یې مېخونه ټک وهلي دي چې ښه ښکاري یې د کورنیو جګړو پر مهال هغه ۵تنه قندهاریان دي چې په بامیانو کې یې په تختو پسې وتړل، په ژوندوني یې مختبېلي[؟] په سینو ورته ټکوهلې، قندهار ته یې ولېږل او قندهاریانو ته یې لیکلي وو چې دا د محقق تحفه ده! محقق تل ظاهراً په دې ټینګار کړی چې په هزارمګانو ظلم او ستم شوی او باید حقوق یې ورکړل شي او د ایران او پاکستان کلک ملاتړ له ځان سره لري. د بېلګې په توګه، د ملي امنیت د ادارې پخواني مشر امر الله صالح د لیکنو پر بنسټ، حتی د محقق د دسترخوان لګښت د ایران استخبارات ورکوي او تل محقق ټینګار کړی چې تهران زما پایتخت دی! (د حمدالله حلیم سیرت له لیکنې څخه)

جنګسالار محقق څو ځلې حکومت ته تهدیدوونکي ګوت‌څنډنې کړي دي او یو ځل خو یې ولسمشر غني ته اخطار هم ورکړ چې له ارګه به یې وباسي!

دغه جګړه مار محقق، د علي پور پرخلاف د غور په ولایت کې د دولت پر عملیاتو نیوکه وکړه، هغه وویل چې په غبرګون کې به یې لاریونونه ترسره کړي.

علي پور په غور ولایت کې د پښتنو کوچیانو مشران تر شکنجه کولو وروسته لوټلي وو، هغه وو چې د غور ولایت د (لعل او سرجنګل) په ولسوالۍ کې د حکومتي ځواکونو او علي پور کسانو تر منځ په جګړه کې ملکي کسان ووژل شول، په اړه یې د علي پور مدافع وکیل، جنګسالار محقق وویل: ارګـمېشتي کینه کښ خپلو اصلي هیلو ته ورسېدل، د پاڅونوالو[؟] قوماندان علي پور شتون د لعل او سرجنګل په ولسوالۍ کې، هزاره جات ته د دولت د لښکرکشیو او د هغو خلکو د ځپلو لپاره ښه پلمه شوه چې شل کاله یې د هېواد د خپلواکۍ لپاره جهاد او مقاومت کړی او نږدې شل کاله د دموکراسۍ او عدالت لپاره ولاړو وو.


(د افغان ملت دښمن او د هزاره‌ګانو قهرمان! عبدالغني مشهور په علي پور شمشېر)

د اجرائیه ریاست دویم مرستیال د نومړو عملیاتو په هکله له حکومت څخه داسې غوښتنه وکړه چې ته به وایې د لعل سیمه د هغه د پلار شخصي ملکیت دی، محقق وویل:**«له حکومت څخه بیا ځلې غوښتنه کوم چې د هزاره‌جاتو سیمې ناامنه نه کړي او خپلو لښکرکشیو ته پای ورکړي، د حکومت ځانګړي ځواکونه دې د لعل له سیمې وباسي، د لعل د سیمې له خلکو دې بښنه وغواړي او د شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته دې تسلي ورکړي، پرته له دې به د خپلو مظلومو خلکو، په ځانګړي توګه د کابل له خلکو وغواړم چې لاریونونو ته راووځي.»** www.af.shafaqna.com

د علي پور له پرله پسې جنایتونو وروسته د ۱۳۹۷ل. ل، کال د لیندۍ په ۴مه نېټه، نومړی بدماش په کابل کې د ملي امنیت د ځواکونو لخوا ونیول شو. په کابل او هزاره توکمه سیمو کې هزارمګانو د خپل جنایتکار قهرمان د نیولو په غبرګون کې لاریونونه وکړل. **«د اجرائیه ریاست دویم مرستیال محمد محقق د علي پور د نیولو له امله غبرګون ښکاره کړ، د حکومت دا عمل یې محکوم کړ، له حکومت یې وغوښتل چې د علي پور د نیولو عاملین د له خپلو دندو وشړل شي او عدلي او قضايي مراجعو ته دې وروپېژندل شي.[!؟]** www.etilaatroz.com


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په افغانستان کې هر څه سرچپه روان دي، دلته یو جنایتکار او بدماش بې ګناه بلل کیږي خو هغه څوک چې د جنایتکارانو پر وړاندې دنده ترسره کوي، هغه ته ګناهکار او مجرم ویل کیږي، ومو لوستل چې محقق په څومره سپین سترګی سره سرچپه قضاوت کوي.

که د علي پور قضیې ته د جنګسالارانو او جنایتکارانو له زاویې وکتل شي نو محقق او د ده په څېر نور جګړه ماران ملامت نه دي، ځکه چې دوی په خپله د علي پور په شان له جنایتکارانو سره په ټولو جرمونو کې شریک دي نو خامخا به له خپل هم مسلکه قاتلانو دفاع کوي.

له بده مرغه چې علي پور وروسته له نیول کیدلو څخه ډېر ژر د ولسمشر غني د دویم مرستیال هزارمتوکمه، سرور دانش لخوا له بنده خوشی کړای شو. [1]



(له ښی خوا لومړی کس سرور دانش، له چپ لوري لومړی تن علي پور چې د ولسمشری مرستیال

په دفتر کې یې بوټان د چپلکو په څېر پښو کړي دي.)

علي پور په یو ژمنلیک کې له حکومت سره، د ولسمشر دوېم مرستیال سرور دانش په ضمانت، ژمنه کړې وه چې جنایتونه به نه کوي او خپلې وسلې به حکومت ته تسلیموي، هغه د خپلې ژمنې پر خلاف وروسته له هغې چې له زندانه خوشې شو، بیا یې د دولت او خلکو پر ضد خپلو ناوړه کړنو ته دوام ورکړ، د ۱۳۹۹ل. ل، کال د وري په میاشت کې«د علیپور په مشرۍ نامسئوله وسله والو د بهسودو ولسوالی د دوه یمې حصې پر امنیه قوماندانۍ برید وکړ چې په نتیجه کې یې دوه پوستې له دوه میله پیکا، لس میله کلاشینکوف، یو میل ایم فور ټوپک، یوه عراده هاموي ټانګ او د پولیسو له رینجر موټرو سره یو ځای د وسله والو لاس ته لوېدلي دي. جګړې د څو ساعتونو لپاره دوام کړی چې په پایله کې ګڼ پولیس ټپیان او یو شمېر وسله والو برمته کړي.

د علیپور وسله والو د امنیه قوماندانۍ او ولسوالۍ مقام د سقوط نیت درلود او اوس هم په سیمه کې د بیا ځلي برید لپاره هڅې رواني دي.

څو میاشتې وروسته د سلواغي په ۱۴مه نېټه «د شیعه ملیشو قومندان علیپور اړوند مسلحو کسانو د میدان وردګو ولایت بهسودو ولسوالی ودانی له نیولو وروسته سوځولي ده... د میدان وردګو ولایت امنیتي سرچینې وایي، د علیپور وسله

---

[1]: سرور دانش د خپل دانش سربېره، د نورو افغانستانیو په څېر ځان افغان نه بولي او د سقاؤ د زوی حبیب الله کلکاني کلک پلوی دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

والو بيګا ناوخته د بهسودو حصه اول ولسوالۍ په مرکز برید کړی چې له امله يې دولتي عسکر د ولسوالۍ مرکز څخه شاتګ ته مجبور او د ولسوالۍ د تعمیر او ملي امنیت مرکز په ګډون ټولې دولتي ودانۍ د علیپور ملیشو سوځولي دي.»
www.nunn.asia
د علي پور د دا ډول بدماشیو پروړاندې دولت اړ شو د هغه پر خلاف عملیات ترسره کړي، هغه مهال چې حکومتي ځواکونو د علي پور بدماشانو سره په جګړه لګیا وو، یوه (ایم، آی، ۱۷) ډوله چورلکه د میدان وردګو ولایت د بهسودو په سیمه کې د علي پور جنایتکارانو لخوا د ناستې پر مهال، په داسې حال کې وویشتل شوه چې شپې مهال ۱۲بجې يې د بهسودو ولسوالۍ لومړۍ حصې ته پوځي اکمالات ترسره کول او له هغې خوا يې د علي پور له جنایتکارانو سره په جګړه کې ټپي شوي سرتېري او یو تن وژل شوي سرتېری، کابل ته انتقالول، په خواشینۍ سره چې د چورلکې څلور تنه عمله او پنځه تنه امنیتي کسان ووژل شول. (د کب ۲۸مه ۱۳۹۹ل. ل، کال)
**د علي پور بدماشانو لخوا د چورلکې په ویشتلو ټول افغان ولس ډېر خواشینی ؤ، ټول افغانان له علي پور څخه د غچ اخیستلو غوښتونکي وو.** د دغې پېښې په غبرګون کې ولسشمر اشرف غني وویل چې د چورلکې ویشتونکو ته به سخته سزا ورکړي؛ د دفاع وزارت د ارکان رییس محمد یاسین ضیاء وویل، هر هغه څوک چې د دې پېښې عاملین وي د امنیتي ځوکونو له غچ اخیستنې سره به مخ شي.

دفاع وزرات مرستیال محمود میاخېل د وژل شویو پیلوټانو د جنازې د مراسمو پرمهال وویل چې د دوی غچ به له جنایتکارانو څخه اخلي، هغه که علي پور وي یا نامسؤله وسله وال، یا طالبان وي، یا جنایتکاران، ټول زموږ پر وړاندې یو ډول دي.

هغه حاضرو کسانو ته څرګنده کړه چې موږ به ستاسو د ساتونکو په توګه د جنایتکارانو سره هېڅ ډول معامله ونه کړو او هر څوک چې په دننه په نظام یا له نظام بهر او یا هم په سیمه کې له دغو جنایتکارانو ملاتړ کوي، موږ د هغوی پر وړاندې ولاړ یو. bbc.com/persian
د دفاع وزارت ویاند ولیکل: **«ملي دفاع وزارت چې په هر قیمت وي د شهیدانو د وینې غچ به اخلي او د دغې ترهګرې پېښې عاملینو ته به سزا ورکړي.»**
د علي پور لخوا د چورلکې د غوځولو په غبرګون کې افغان هوايي ځواکونه او د امنیتي ځواکونو قوماندانان پاریدلي وو چې له هغوی څخه سمیع سادات د ۲۱۵ میوند قول اردو قوماندان ولیکل: **«دفاعي ځواکونه به د علي پور کسان چې په هر ځای کې ووینې په ډېر ویاړ سره به يې له منځ یوسي.»** https://www.dw.com
علي پور د چورلکې د ویشتلو مسؤلیت په غاړه واخیست او په ویاړ يې وویل چې د ملکي خلکو د ساتلو په موخه يې چورلکه ویشتلې ده چې پوځ غوښتل هوايي برید ترسره کړي. https://www.ariananews.af/fa



(د هوايي ځوکونو پیلوټانو جنازې چې د علي پور لخوا وژل شوي دي.)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د چورلکي له ويشتلو درې ورځې وروسته افغان ځواکونو د ميدان وردګو ولايت د بهسودو په ولسوالۍ کې د علي پور پرخلاف عمليات پيل کړل، د علي پور کسان د ځايي خلکو کورونه د ډال په توګه وکارول چې له امله يې ملکي خلکو ته هم مرګ ژوبله واوښته. «په ياده ولسوالي کې ځايي سرچينې وايي، د ۱۳۹۹ کال د کب مياشتې په دېرشمه نېټه د امنيتي ځواکونو د هوايي بريدونو په ترڅ کې د يوې ۱۹ کلنې مېرمنې په ګډون، ۹ کسان ووژل شول او د يادې مېرمنې خوابښې ټپي شوه.»

له بلې خوا د ملي دفاع وزارت د ۱۳۹۹ کال د کب مياشتې پر ۳۰مه نېټه د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي و چې د هوايي ځواکونو په بريد کې ۱۲ نامسووله وسلهوال وژل شوي او ۶ نور يې ټپيان دي. https://swn.af/ps

په حکومت کې د علي پور مدافع وکيل جنګسالار محقق يو ځل بيا له علي پور څخه دفاع وکړه ويې ويل چې د علي پور پر وړاندې نه بايد د ځواک په کارولو کې بيړه وشي.

د هزارهګانو يو بل جنګسالار، د وحدت ګوند مشر کريم خليلي په بهسودو کې د علي پور پروړاندې پر عملياتو خواشيني ښکاره کړه، ويې ويل چې پوځي جګړه به د بحران سبب شي، راغلی حالت بايد د سولې له لارې حل شي. https://www.ariananews.af/fa/

دفاع وزارت د ۱۴۰۰ل. ل، کال د وري مياشتې په ۲يمه نېټه خبر ورکړ چې د ميدان وردګو ولايت د بهسودو ولسوالۍ په لومړۍ برخه کې [د علي پور مرکز] د عملياتو په جريان کې د علي پور د وسلو يو وسلهتون کشف او له منځه يوړل شو. د عملياتو پر مهال په سيمه کې د علیپور د وسله والو پوستې هم په نښه شوې او يو پټنځای يې له منځه وړل شوی دی. https://tkg.af/pashto

د بهسودو په ولسوالۍ کې د افغان ځانګړو ځواکونو د عملياتو په جريان کې د علي‌پور درې د وسلو او مهماتو زېرمه تونونه موندل شوي دي. pic.twitter.com

افغان امنيتي ځواکونو د علي پور د ډلې ټپلې د له منځه وړلو په برخه کې څو ځلي عمليات ترسره کړل او ښه يې ځپله خو نومړی وتښتيد او ورک شو، د هغه کسان وايي چې علي پور د ايران مشهد ښار ته تللی دی.

علي‌پور له يورو نيوز سره په يوه مرکه کې ځان او خپل جنايتکاران د ملايکو په څېر پاک، سپيڅلي او تر ټولو متمدن، فرهنګي، عصري مسلکي خلک بولي که چېرې د عليپور ډله ټپله تر ټولو پرمخ تللي خلک وي او دا ډول جنايتونه او وحشتونه له خپلو خلکو د دفاع په نوم ترسره کوي نو د دوی نامتمدن خلک به څه ډول انسانان وي؟ هغه وويل:«موږ هېڅ کله نامسؤله وسلهوال نه يو، موږ بايد مسؤليت وپېژنو، په دې مانا چې خلک موږ ته مشروعيت، قدرت او صلاحيت راکوي، دا چې دولت د خلکو د امنيت په راوستلو کې پاتې راغلی دی، خلکو د خپل امنيت په برخه کې پر موږ باور کړی دی، موږ يوه خپل‌سري او بې باکه (لاابالي) ډله نه يو، له موږ سره حقوق‌پوهان، ډاکټران او ماسټران راسره دي، موږ مدني او فرهنګي انسانان يو او د خلکو د مدني حق، امنيت لپاره کوښښ کوو.[؟!]» www.etilaatroz.com

ومو لوستل چې علي پور خپله ډله تر ټولو ښه مدني، فرهنګي او مسلکي بولي، وايي چې د هزارهګانو په سيمه کې يې امنيت ټينګ کړی دی. د علي پور د متمدنې ډلې وحشي، ترهګرۍ او جنايي اعمال دا ښيي چې د دوی ډله تر ټولو وحشي او نامتمدنه ډله ده، همدا ډله ده چې په سيمه کې يې امنيت خراب کړی او دولتي ځواکونه يې اړ کړي چې په سيمه کې پوځي عمليات ترسره کړي او د هزارهګانو او دولتي کسانو د مرګ ژوبلې سبب شي.


(په بهسودو کې د علي پور له وسلهتون څخه ترلاسه شوي وسلې.)

د علي پور له جګړه ييزو وسلو او مهماتو او امکاناتو داسې ښکاري چې له هغه سره بهرنۍ مرستې کيدلې، د ايران د استخباراتو سربېره دا امکان هم لري چې هغه ته د امريکايانو د (سي، آی، اې) لخوا هم جګړهييز توکي ورکړل شوي وي.

د يادولو ده چې د جمهوريت له پرځولو وروسته د اسلامي امارت ځواکونو د بهسودو ولسوالۍ د (تکهتو او ابليس) په سيمو کې د عملياتو پر مهال د علي پور اړوند دوه وسلهتونونه موندلي دي چې په هغو کې سپکې او درنې وسلې، يو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

موټرسایکل، دوربینونه، لاسي بمونه په زرګونو مرمۍ او مهمات ترلاسه شوي دي. (۲۰۲۲/۱/۱۶ز)
https://sputnik.af

هغه مهال چې طالبانو هزاره‌توکمه، د طالبانو پخواني قوماندان امیر مهدي مجاهد چې یاغي شوی ؤ، د نیولو په موخه د سرپل ولایت د بلخاب ولسوالۍ ته ځواکونه واستول، علي پور له نامالومه ځایه خپلې غورې وکړې چې طالبان دې د مهدي مجاهد له تهدیدولو او نیولو لاس واخلي، طالبان دې هزارمګان جګړې ته نه اړ باسي چې بیا به پښېمانه شي ... لنډه دا چې مهدي مجاهد له طالبانو سره په بلخاب کې جګړه وکړه، په جګړه کې یې ماتې وخوړه، نوموړی ایران ته د تښتیدلو پر مهال د طالبانو لخوا ووژل شو خو علي پور هېڅ توره ونه کړه.
دا وو د علي پور او د هغه د ملاتړو په اړه مالومات چې د جمهوریت په کمزوري کولو کې یې پوره ونډه اخیستې وه.


(د علي پور دلې ځانګړی بیرغ چې د هغه په پټنځای کې ملي امنیتي ځواکونو ترلاسه کړی دی.)


(په بهسودو کې د علي پور له وسلوتون څخه ترلاسه شوې وسلې.)
نېټه: ۱۴۰۲/۶/۱۰ل. ل

**نور بیا**

د لیکوال: آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ